مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: ښېرندوی حبيب الله رفيع
راليږونکی: احسان الله اريزی

۲۰۲۴/۰۳/۳۰

# د وردګو په خوات کې خروشتي ډبرليکونه

## ميدان وردک ولايت د تاريخ په اوږدو کې

### وردک د تاريخ په بهير کې سيمينار

### اومه مقاله

ښېرندوی حبيب الله رفيع د مولانا نصرالله نقشبند زوی دی چې په 1324 هـ.ش کال د وردګو ولايت د سيد آباد ولسوالۍ د کوچنی آبدرې په کلي کې زیږېدلی دی.
د لازمو زده کړو تر سره کولو وروسته په 1340 کال د پوهنې وزارت د تاليف او ترجمې په رياست کې د (عرفان) او (پوهنې) د مجلو مهتمم، په 1342 د تاريخ ټولنې د (آريانا) مجلې مهتمم، په 1348 کال د افغان ملت د جريدې مسوول مدير، په 1351 د فولکلوري مجلې موسس مسوول مدير، په 1352 د پښتو ټولنې غړی، په 1357 کال د پښتو څېړونو د نړيوال مرکز غړی، په 1358 د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی، په 1357 د پښتو څېړونو د نړيوال مرکز غړی په 1358 د افغانستان د علومو اکاډومۍ غړی، په 1361 کال کې پېښور ته مهاجرت، ورسره د پېښور د پښتو اکاډمۍ همکار، په 1365 کال د افغانستان د جهادي څېړنو د مرکز او د قلم مجلې د ليکوالي ډلې غړی، په 1366 کال کې په اسلام آباد کې د جهاد د ثقافتي شورى او د افغان جهاد د مجلې د ليکوالي ډلې غړی، په 1367 کال کې د افغانستان د کلتوري ټولنې اود سپېدې مجلې د ليکوالي ډلې غړی، په 1368 کال د تعاون مجلې مسوول مدير، په 1372 کال د تلوسې مجلې چلوونکی، په 1381 کال هېواد ته بېرته راستنېدل، د کليد ګروپ د نشراتو سرپرست او د اطلاعاتو او کلتور وزارت د عالي شورى غړی، بيا د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی او د آريانا دايرة المعارف رييس تر 1368 وروسته د افغانستان د علومو اکاډمۍ سلاکار.
چاپ آثار:
تر 120 ټوکو زيات چې ځينې يې دا دي: سکروټې، د خلکو سندرې، د پښتو پخوانۍ تذکرې، ادبي ستوري (دوه ټوکه)، پښتو پانګه (دوه ټوکه)، پښتو خېروني، ژبپالنه، زرينې ښانګې، د استاد ياد، افغانستان او د روسي دوستۍ داستان، آواره شيدا، کتابونه دريابونه (دوه ټوکه)، نښانې او ترانې، اورونه او ويرونه، ږلی او ګولۍ، د افغانستان کوټلی تاريخ، حاکميت قانون در افغانستان، رحماني صنم، هينداره، نندارتون، د افغانستان بانکنوټونه، د افغانستان کابينې، شاه شجاع او ببرك د تاريخ په تله کې، ادبي څېړنې او نور....
مقالې: تر اتو سوو زياتې مقالې يې د هېواد او پښتونخوا په بېلابېلو خپرونو کې نشر شوي دي.
سيمينارونه، تر دوو سوو زياتو علمي سيمينارونو کې يې برخه اخيستې ده.
مډالونه: تر لسو زيات طلايي مډالونه، نښانونه او يادګارونه د بېلابېلو علمي او ادبي ادارو له خوا ورکړل شوي دي.
سفرونه: پاکستان، ايران، هندوستان، دوبی، ابوظبي، مصر، جرمني، هالند،بلجيم، فرانسې، کاناډا او امريکا ته.

د 1838 زیږدي کال شاوخوا د انګليسي پوهانو د پلټنو په نتيجه کې د افغانستان له بېلا بېلو سيمو نه يو شمېر سکې را غونډې شوې او د بنګال د شاهي آسيايي ټولنې يوه غړي (جېمز پرنسيپ) څېړنې پرې وکړې او په دې سکو کې له يوه نوي ليکدود سره مخ شو، د دې ليک لوستل هم له که د (هيروغليف) او (ميخي خط) غوندې ستونځمن کار و؛



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځکه دا هم ناپېژندلی او نوی ترلاسه  شوی یو خط و او دا مرموزې کرښې هغه وخت لوستل کېدای شوې چې له یوه بل پېژندل شوي لیکدود سره یې د پرتلنې زمینه موندل شوې وای.
په دې لړ کښې داسې سکې هم ترلاسه شوي چې هم یوناني لیک پرې لیکل شوی و او هم یو بل مجهول لیک، په دې برخه کې لومړی سکې د یونانو باختري واکمن ځلورم پاچا (ایوکراتیدس) دي چې په خپلو ځلور کنجه مسي سکو کې یې دواړه لیکدودنه کارولي، په ده پسې د دې کورنۍ نورو پاچایانو او ورپسې د کوشاني واکمنو د (کدفېزس) د کورنۍ دوو تنو دا کار کړی او خپلې سکې یې په دې دوو لیکدودونو لیکلې دي.
جیمز پرنسیپ یوناني ژبه د (کلی) په توګه د دې لیکدود د لوستلو له پاره وکاروله، لومړی یې د یوناني پاچا نوم ولوست چې په دواړو لیکدودنو کې یې ډېر توپیر نه سره درلود، بیا یې ورپسې کلمه چې باید د پاچا په معنی وي ولوسته، ورپسې یې نورې کلمې هم د دې (کلی) په مرسته ولوستې او ورو – ورو یې د دې نامعلوم لیک اووه – اته کلمې ولوستې او په پایله کې د دې نوي لیکدود الفبې په نیمګړې ډول ترلاسه شوه.
(جمیز پرنسیپ) تر دې وروسته د دې لیک د ژبې په پېژندلو کې له ستونځې سره مخامخ شو، اووه – اته کلمې یې چې موندلې وې له سنسکریټ سره لنډې وې خو له بلې خوا دا لیک د سنسکریټ په خلاف د سامي ژبو په شان له ښیې خوا نه کیڼې خوا ته لوستل کېده خو بیا هم ځرنګه چې سنسکریټ ته لنډ و نو هغه یې د (آریانا ژبه) وبلله او هغه وخت یې ولیکل چې، که په پښتو کې چې د آریانا یوه محلي ژبه ده، ژوره څېړنه وشي ښایي داسې ورځ راورسېږي چې د پښتو په مرسته د دې نوي لیکدود د سکو او ډبرلیکونو په لوستلو کې برې ترلاسه کړو.
تر سکو وروسته د دې لیک ځو کرښې په یوه لوښي کې چې له بلخ نه ترلاسه شوی و، وموندل شوې، په دې پسې (جنرال کورټ) د پنجاب د منیع کلاله معبد نه ځینې لیکنې په دې لیکدود پیدا کړې نو (پرنسیپ) هغه د (باختر او هند) د لیکدود په نامه یاد کړ، په همدې کال (1838) جیمز پرنسیپ مړ شو خو د ده ملګرو او همکارانو دې کار ته دوام ورکړ او مستر مسن انګلیس افغانستان ته راغی او په دې لیک یې ځینې نور ډبرلیکونه د بامیانو او هډې له ستوپو نه ترلاسه کړل، له وردګو نه هم د دې لیک ډبرلیکونه ترلاسه شول، نو سندونه او وثیقې هم لاسته راغلل او په نوی لیکدود کې مضامین پراخ شول چې بیا پروفیسور ولسن په خپل پنډ کتاب (آریانا انتیکوا) (زړه آریانا) کې د دې لیکدود په باب مفصل بحث وکړ او د دې لیکدود الفبې یې د یوې تابلو په بڼه ترتیب کړه او پرېکړه یې وکړه چې دا لیکدود دې د آریانا په نامه یاد شي، بیا په چیني ترکستان کې هم د دې لیک کتیبې پیدا شوې او پوهانو یو ځل بیا څېړنې پرې پیل کړې.
دا نوی لیکدود (خروشتي)، (خروشتهي)، (کهرا روشتخي) وبلل شو، دا لیکدود تر میلاد درې سوه کاله وړاندې په ختیځ افغانستان کې پیدا شو او تر پنځمې میلادي پېړۍ پورې یې اته سوه کاله دوام درلود، چې د سنسکریټ او پراکریټ ډبرلیکونه پرې لیکل شوي وو او د مور یا د کورنۍ، یونانو باختري پاچایانو او کوشانیانو پر سکو لیکل شوی و.
پر دې لیک ګڼې کتیبې او لکیني له ختن نه تر افغانستان او شمالي هند پورې را پاتې دي او پر سکو او کتیبو باندې د یوناني، آرامي او براهمي لیکدودونو سره یو ځای دود و. دا لیک لکه د آرامي غوندې له ښیې نه کیڼې خواته لیکل کېده او په افغانستان کې یې نخښې  د آمو له جنوب نه تر ارغنداب پورې را پاتې دي چې له هډې، بګرام، بلخ، بامیانو، وردګو، غزني او خیبر درې ځخه ترلاسه  شوي دي، د (بیوهلر) په وینا د خروشتي د الفبې له ځینې ځانګړنو لکه د علت توری (مصوت) او صحیح توری (مصمت) څخه ښکاري چې دا لیکدود د براهمي لیک دود په مرسته بشپړ شوی دی.
د هېواد په جنوب لویدیځ کې، خروشتي لیکي سکې له سیستان او کندهار نه هم ترلاسه شوې او ژوب له تهل نومي سیمې، سوات، لداخ او په جنوب کې له موهن جو دیرو څخه د خروشتي آثارو ترلاسه کېدل ښیي چې خروشتي لیکدود د نفوذ ساحې له 69 درجو څخه تر 73 درجو او 30 دقیقو ختیز اوږدوالی او له هندوکش نه تر 33 درجو په شمالي سور پراختیا درلوده چې د پیدایښت ځای یې له شکه هماغه د کندهارا ولایت تر ټکسیلا پورې و.
د خروشتي د نامه په باب یو نظر دا دی چې دا کلمه په اصل کې (خروتهي) وه، چې لا تراوسه هم په پښتنو کې یوه قبیله د خروټي په نامه شته، بوهلر وایي چې خروشته د هغه د مخترع نوم دی او هم په آرامي ژبه (خروشته) د لیکلو په معنی و چې بیا به په سنسکریټ کې هم دود شوی وي. ځینې پوهان وایي چې د خروشتي کلمه د آرامي له (کروتهه) څخه چې د توري معنی لري، راوتلې ده، همدا راز د پښتو (کرښه) د کروشتي = خروشتي له کلمې سره ورته والی لري.
د خروشتي لیک سوونه کتیبې او سکې ترلاسه شوې خو ډېر مهم متن یې هغه کتیبه ده چې پر یوه لوی ډېرین لوښي لیکله شوې او د 1838 کال شاوخوا میسون انګریز هغه د وردګو له خوات نه چې د کابل د لویدیځ په 30 میلۍ کې پروت دی، د لندن موزیم ته ولیږدوله. دا ډبرلیک درې کرښې د لوښي ګرد چاپېره راتاو شوی او یوه کرښه یې د لوښي په لاندینۍ برخه کې ده، چې توري یې سره بېل – بېل او روښانه دي چې د کنیشکا (169 – 182ز) د زوی مهاراجه هوویشکه په نامه لیکل شوې او اټکلي ژباړه یې په لاندې ډول ده:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(په 51 کال کې د ارتمي میاشتي په 15 نېټه سیوس کمه ګولیه د وګره مریګه زوی په خوات کې استوګن شو او د حضرت ساکیا موني د یادګار بنسټ یې د وګره مریګه په ویهاره کې په یوه ستوپه کې کېښېښود.
دا د خوښی او نېکمرغی په ودانی کې دې لویه برخه د مهاراجه هوویشکه وي! او د ټولو منسوبینو، دوستانو، خپلوانو او زما (وګره مریګه) وي!
ګټه یې دې د ټولو موجوداتو روغتیا او د ټولو ویاړ ورسیږي!
هغوی چې په دې نړی کې دي له ځمکي لاندې تر آسمانه، له هګیو نه راوتلي (الوتونکي) او له نسه زېږېدلي (انسانان او څاروي) تر بې بنې موجوداتو (نالېدونکي ژوي) پورې
(همدا راز ثواب یې دې) زما ځوځا د او هغوی ته چې بې لاري نه دي، ورسيږي!
همدا راز یې دې د ودانی له چارچاپېر څخه، بشپړه ګټه واخیستله شي، هغه سړی چې ناسمه عقیده یې ده هم برخه تري ولري،
د اویهاره د مها سا نګهیکه د ښوونکو په واک کې ده.)
په دې ډبرلیک کې:
ــ د واکمنی 15 کال د 180 میلادي شا او خوا دی.
ــ د ارتمي سیوس یوناني میاشت د یونانی کال پنځمه میاشت ده.
ــ په خروشتي لیکدود کې یوناني وخت شمېر پردې دلالت کوي چې د یوناني فرهنګ اغېز په دوهمه میلادي پېړی کې هم پر خپل پخواني ځواک پاتې و.
ــ د 51 کال د ارتمي سیوس د میاشتي 15، د 179 میلادي کال د آپریل له 25 سره سمون درلود.
ــ په دې ډبرلیک کې د دوو ورونو نومونه د ماریګه یا مریګه کورنۍ په توګه یاد شوي چې همدا نوم د (ماریک) په املا د سره کوتل په ډبرلیک کې په تخاري ژبه او یوناني لیکدود راغلی دی او ښکاري چې مریګه د کنشکا او د ده د زوی هوویشکه په وخت کې د یوې کورنۍ نوم و او د دې کورنۍ افرادو د معبدونو په جوړولو کې لوی لاس درلود.
ــ د بغلان په معبد کې د تخاري ژبې او یوناني رسم الخط کارېدل او د خوات په معبد کې د خروشتي لیکدود او پراکریت ژبې استعمال چې شل کلن زماني واټن لري له یوناني فرهنګ سره د مقامي فرهنګ د موجودیت او سره ګډېدلو حالت ښيي.
ــ دا چې د بغلان په معبد کې د سپېڅلي اور نخښې او د وردګو په خوات کې یو بودایي معبد لیدل کېږي چې د ساکیاموني په نامه وقف شوی ښيي چې په کوشاني دروه کې د مذهبونو او عقایدو آزادي په بشپړ ډول موجوده وه، چې د دې پاچایانو پر سکو هم د یو شمېر ځایي، یوناني او هندي خدایګوټو نخښې ښکاري.
ــ د خوات د ډبرلیک مضمون هم پراخ نظري او پر ټولو ژوندیو موجوداتو باندې شفقت او مهرباني ښيي چې د آشوکا د فرمانونو له مضمونونو او د بودایي دین له قوانینو سره سمون خوري او بشپړ مذهبي درناوی تري ښکاره دی.
ــ په دې ترتیب دا یو بشپړ انساني او عاطفي متن دی چې په دې ډبرلیک کې ځای شوی دی.
د جهاد په دوره کې یو ځل بیا آوازه خپره شوه چې د وردګو په خوات کې یو ځل بیا هم د خروشتي لیک ډبرلیکونه له ځمکي رابرسېره شوي خو بیا معلومه نه شوه چې دا خبره ریښتیا وه که نه؟ او که وو هم کوم لوري ته یووړل شول؟
یادونه:
په لیکنه کې په لنډیز او وجیز ډول له لاندې آثارو نه استفاده شوې ده:


1. کهزاد، علامه احمد علي: تاریخ افغانستان، دوهم ټوک، تاریخ ټولنه، 1325 کابل افغانستان، 287 – 302 مخونه.
2. حبیبي، علامه عبدالحی: تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان، تاریخ ټولنه، 1350 کال، 21 – 51 مخونه.
3. یوهانس فریدریش، د فیروز رفاهی ژباړه: تاریخ خط های جهان، انتشارات دنیا، 1368 لمریز کال 161 مخ.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ